
لنډه کیسه
د هیڅ چېرې جدا
نه شوم
Ketabton.com
لیکوال: واجد منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د هیڅ درد دوا نه شوم

**لیکوال: واجد « منګل »**

**ترتیب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پیل

زيات وخت تېر وو، پوره دولس کاله له کورنۍ، کلي او وطنه لیرې وم. په کوچنیوالي مې دې بېلتون ته غاړه ورکړې وه.

کور کې یوې کوچنۍ خبرې زما د ژوند برخلیک بدل کړ او تر بل هېواد یې ورسولم.

پوهیدم، کورنۍ به مې ډېر ځایونه را پسې لوټ په لوټ کړي وي، دومره انتظار به یې، لکه ستوري یې چې د شپې راتلو ته کوي، کړی وي. یا شاید له ځو کالو وروسته یې په مرګ حساب کړی وم.

خو زه، د کلونو دردونو له زغملو سره سره بیا هم ضد نیولی وم. نه پوهیدم چې ولې، بېرته کور ته تلل مې نه غوښتل.

د نړۍ تر ټولو ښایسته ځای کې، له ښایسته خلکو سره اوسیدم، خو دا ښایسته ځای راته وروسته دوزخ ښکاریده.

هر څه مې لرل خو د زړه سکون نه وو. هڅه مې کوله، ټول هېر کړم، نه کیده، ورځ په ورځ مې زړه را تنګیده، له ژونده ستومانه وم، زړه مې د مور غېږه غوښته، هغه غېږه چې د نړۍ تر ټولو سترې زوی پکې آرام وکړي.

بله لار نه وه، لیونتوب مې په ځان نه لوریده، دوه اختیاره مې لرل، بېرته کور ته تلل یا همداسې سرګردانه پاتې کېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ځان سره مې وويل: تر کله به ضد نيولی وم؟، ايا ښه نه دی چې نور بايد کور ته لاړ شم؟، ايا ما بد نه دي کړي؟

نه پوهيدم، نور مې دا بيلتون نه شو زغملی، افغانستان ته لاړم...

کور مې له ښاره ليرې په يوه کلي کې وو. نه وم خبر چې کورنی مې لا تر اوسه هلته اوسيږي يا نه؟

زړه نا زړه مې له يو سراچه ډوله موټر لرونکي کس سره خبره وکړه، د کلي نوم مې ورته وويل.

پاو مزل مو وکړ، سر مې د موټر د دروازې له شيشې سره لګولی وو، د وطن ننداره مې کوله، له سترګو مې بې اختياره اوښکې توييدې، هره سيمه راته نوې ښکاريده، بايد نوې وای، دولس کاله ترې ليرې وم.

د اوړي موسم وو، هوا ګرمه وه، د مازديګر لمر د افغانستان د غرو په لوړو څوکو خپلې وړانګې غوړولې وې.

وروسته موټر چلونکي مې فکر را خراب کړ:

- را ورسيدو.

دوه سوه افغانۍ مې ور وشميرلې. موټروان اکسيليټر ته پښه ورکړه، شاته په سړک خړې دوړې پورته شوې...

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاوخوا مې وکتل، ټول ځایونه نا اشنا وو، د کلي بڼه زیاتره بدله وه، ډېر کورونه په کنډوالو بدل شوي وو، خاص څو لویې نوې ودانۍ تر سترګو کیدې.

وراندې لاړم، هیڅ نه پوهیدم چې کوم ځای ته روان یم، خلکو هم نه پیژندم، د کلي ماشومان اوس زلمیان شوي وو او زلمیان بیا په پخه عمر کې وو.

د سیمې د بڼې بدلیدو له امله مې کور نه شو پیدا کولی، دومره مې په ذهن کې وو چې له یو سپین رنګه جومات سره نیږدې اوسیدو.

یوې او بلې خوا وګرځیدم، مخې ته له یو دېوال سره شنې ګڼې ونې ولاړې وې. دا هغه ونې وې چې ما او ورور مې کېنولې وې.

بیا مې جنوب خوا ته وکتل، لویې لویې ودانۍ جوړې وې خو سپین رنګه جومات هماغسې رنګ وو.

سم باوري شوم، کور مې سم کړ، دروازې ته ور ورسیدم. شاته مې د موټر غږ تر غوږو شو، د خام سړک په یو ړنګ ځای کې کې تور رنګه موټر په ډېرې تېزۍ سره ودرېد. د ښي اړخ ټایرونه یې د سړک ړنګ ځای ته برابر شول، له کندې اوبو څړیکه وکړه، پاکې جامې یې را ولړلې. پاس مې ور وکتل، یو ځوان هلک ترې راښکته شو، زړې او خیرنې جامې یې اغوستې وې، سترګې ښکاریده، لاسونه یې په رنګ تور شوي وو. شونډې یې چاودې وې. فکر مې وکړ، ښایي د کلي یو کس دی. وروسته ښه نیږدې راغی، په حیرانۍ یې راته وکتل، بیا مې له مخې تېر شو، د یوې ماتې خړې لرګینې دروازې خوا ته یې ګامونه واخیستل...

(c) ketabton.com: The Digital Library



اټکل مې غلط وو، له کاره سترې ستومانه راستون شوی دا هلک مې کشر ورور وو.

څو شیبې په ځای کې ولاړ وم، کور ننوتلو ته مې زړه نه شو ښه کولی، سل زړونه مې سره وتړل، په انګړ ور ننوتم.

اه! هغه پخوانۍ لویه حویلۍ نوره نه وه پاتې، چارچپېره خام دېوالونه تاو وو، یوازې یوه کوټه او تشناب ور پاتې وو.

کشر ورور مې په داسې حال کې چې څمکه یې جارو کوله، را وکتل. زما خیرې ډېر بدلون کړی وو، نه وم یې پېژندلی.

مور مې د کوټې ته جوړ کوچنې سالون کې په ویل چیر (معیوبینو چوکۍ) ناسته وه، له اوږو مې بکس ښکته کړ، ور منډه مې کړه، په پښو یې ور پرېوتم، له اوښکو ډکې سترګې مې ور واړولې:

ـ مورې! عابد یم.

غلې وه، د خبرو سېکه نه وه ور پاتې.

زه هم چوپ وم، ذهن کې مې را تېر شول؛ ولې مې مور عکس العمل وه نه ښود؟

شاته مې مخ واړو، ورور مې هماغسې ولاړ وو، جارو یې لاس کې نیولې وه.

را ویې کتل، په تندي کې یې ګونځې پیدا شوې، په زوته (زوره) یې را غبر کړ:

ـ زموږ له څوریدو دې ډېر خوند واخیست؟، کور ته نه راتلل درته ډېر خوند در کړ؟ ها؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ویې ټوخل، مخ یې سور واوښت، جارو یې له لاسه وه غورځیده، په خشکه (غوسه) یې وویل:

ـ ته به اوس زموږ د کوم درد دوا شې؟ مور به مې هماغسې روغه کړې؟ پلار به مې بېرته را ژوندی کړې؟

د بنې اړخ دېوال ته یې ګوته ونیوله:

ـ هغه دوه مشران ورونه به بېرته سره یو ځای کړې؟

وروسته غلی شو، چا خبرې نه کولې. ما مې د موې سترګو ته وکتل، خړه پرده پرې راغله، بېرته یې خلاصې کړې، غټه اوښکه یې له سترګو اوغورځیده...

ورور مې په حقه وو، مور مې را پسې د خبرو او ولاړیدو سپکه له لاسه ورکړې وه، پلار مې د غم او خفګان له امله مړ وو، دوه مشران ورونه مې جدا شوي وو، د کور دروازې اوس د یوې پر ځای، درې شوې وې. لنډه دا چې هر څه بدل وو. زه بېرته راغلم خو د هیڅ درد دوا نه شوم...

**پای**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه!**

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ! ستاسې نېک نظرونه ما سره ډېره مرسته کولی شي.**

فیسبوک: Wajid Mangal

واټساپ: +4368864664143

ایمېل: wajidmangal2003@gmail.com

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**